په کار ځای کې جنسي ځورونه څه شی ده؟

دا سرچینه تشریح کوي چې د قانون پر بنسټ څه شی جنسي ځورونه ګڼل کېږي او معنی یې څه شی ده؟ همدارازه، هغه پیلګې او موارد وړاندې کوي چې د قانون پر بنسټ جنسي ځورونه څه ډول ده.

د ولایتي، سیمه ییزو او فدرالي بشري حقونو او کار ځای د خوندیتوب قوانینو پر بنسټ په کار ځای کې جنسي ځورونه غیر قانوني ده.

قانون کوم موارد په کار ځای کې د جنسي ځورونې په توګه ګڼي؟

په کار ځای کې جنسي ځورونه، هغه ناوړه جنسي چلندونه یا خبرې دي چې کولای شي د دې لامل شي یا په منطقي ډول داسې و انګیرل شي چې له امله یې کار کوونکی د ځورونې، ویرې یا سپکاوي احساس وکړي. دا کیدای شي یو زیان رسوونکی کاري چاپیریال وي او د فزیکي کاري چاپیریال څخه بهر پېښ شي.

دا کار غیر قانوني دی، حتی که چېرې یو ځل پېښ شي یا د کاري چاپیریال د کتلور یوه برخه وي چې د جنسي اړیکې یا جنسیت په اړه ټوکې کوي. دا توپیر نه کوي چې یوه کس د سپکاوي قصد کړی وي یا داسې فکر یې کړی وي چې کار یې بې زیانه دی، خو بیا هم غیر قانوني ګڼل کېږي.

په حقیقت کې دا څه معنی لري؟

- **ناغوښتل شوی،** له بلنې پرته، په داسې ډول چې رضایت ورسره نه وي، د منلو وړ نه وي
- **جنسي یا جنسیتي** یعنې دا چې چلند د یو چا له جنس یا جنسیت سره تړاو ولري.
- **نظریات یعنې** لفظي خرګندونې یا ویل شوې خبرې
- **چلند** یعنې فزیکي چلند لکه لمس کول، همدارنګه په هغې کې غیر لفظي کړنې او هغه چلند هم شامل دی چې آنلاین، د لیکلي پیغام یا د ټلیفون له لارې ترسره کېږي.
- **په معقول ډول درک شوی یا منل شوی،** یعنې په داسې ډول وپېژندل شي چې یو بې طرفه شخص هم موافق وي چې دا چلند ناسم دی.
- **خطرناک کاري چاپیریال** یعنې کار چاپیریال داسې کلتور ولري چې پکې جنسي یا په جنسیت پورې تړلې ټوکې، نندارې یا خرګندونې عامې وي (لکه، کار ځای ناخوندي، دښمنانه یا ناسالم احساس شي او جنسي یا په جنسیت پورې تړلې ټوکې، نندارې یا خرګندونې عادي وګرځي)



مهمه ده چې پوه شئ!


جنسي ځورونه تل په جنسي چلند پورې تړاو نه لري. دا هم کېدای شي د جنسیت پر بنسټ د نابرابر چلند په اړه وي یا دا چې یو څوک له خپل واک څخه ناسمه یا ناوړه استفاده وکړي. دا هغه وخت پېښېږي کله چې په واک کې یو شخص له جنس یا جنسیت څخه کار واخلي تر څو یو کارکوونکی شرمنده، وېرولی یا تر خپل کنټرول لاندې راولي.

مګر همدارازـ..

جنسي ځورونه یوازې د مدیر یا سوپروایزر لخوا نه ترسره کېږي. دا هم کېدای شي چې د هم‌رتبه همکارانو، هغو کسانو چې تاسو یې ځارنه ترسره کوئ، بهرنیو قراردادیانو یا متقاضیانو له لوري رامنځته شي. دا ټول اوس هم جنسي ځورونه ګڼل کېږي.

د مسلمانو ښځو پر وړاندې جنسي ځورونه په دې معنی ده چې داسې جنسي یا په جنسیت پورې تړلې خبرې یا کړنې ترسره کېږي چې د دوی د نژاد او دین سره هم تړاو ولري. د دې ډول ځورونې بڼه ډېرې وخت د هغو ښځو له تجربو سره توپیر لري چې نورې یې تجربه کوي.

هغه چلندونه چې قانون یې د جنسي ځورونې په توګه ګڼي، لاندې بیلګې پکې شاملې دي:



- هغه څرګندونې یا نظریات چې ستاسو د بڼې یا ظاهري شکل په اړه وي (لکه څه مو اغوستي دي، ستاسو حجاب، ستاسو نقاب، تاسو ته وویل شي چې نور هم ځان پټ کړئ یا تاسو ته وویل شي چې لږ ځان پټ کړئ)
- هغه څرګندونې چې ستاسو د مدني حالت په اړه وي (لکه ستاسو واده شوی ژوند، د مجردې مور په توګه ژوند، ستاسو سره د واده کولو غوښتنه یا دا چې هېڅوک نه غواړي له تاسو سره واده وکړي)
- په اسلام کې د ښځو د موقف په اړه منفي څرګندونې یا نظریات (لکه، دا چې ښځې په دین کې په طبیعي ډول د سړیو څخه ټیټې دي یا داسې کیسې چې موخه یې د مظلومو ښځو "ژغورل" د دین څخه وي)

- د جنسي ماهیت لرونکې کړنې چې په ځانګړي شخص تمرکز نه لري، لکه، له جنسي اړخه له سپکاوي ډکو موادو ښکاره کول یا پوسټ کول
- په ناوړه توګه کتل، په پټه کتل، د سر اوږدول یا په نامناسب ډول په غیږ کې نیولو غوښتنه
- کله چې د واک په ځای کې یو کس تاسو ته رومانټیک یا جنسي توجه وکړي او تاسو داسې احساس وکړئ چې نه نشئ ویلای، پرته له دې چې خپل کار یا مسلک ته زیان ورسوئ



- کله چې تاسو نه ویلي وي، خو هغوی بیا هم د مینې اړیکې هڅه کوي، حتی که تاسو لومړی هوکړه هم کړې وي
- جنسي ټوکې، سپکاوي، ګواښونه ګنګوسې یا د بدو نومونو کارول
- د جنسیت پر بنسټ څرګندونې، چې پکې د یو شخص جنسي تمایل، جنسیتي هویت یا د جنسیتي څرګندونه شامله وي
- فزیکي اړیکه لکه، لمس کول، ناز ورکول یا سکوېدل
- هغه څرګندونې چې ښځې کمزورې ښکاره کوي یا د دوی وړتیاوې تر پوښتنې لاندې نیسي (لکه ښځې د سړیو څخه بدې دي، د ځینو دندو لپاره مناسبې نه دي، لږ هوښیارې دي، ټوکې نه کوي یا امر مننونکې دي)
- **جنسي تېری یعنې هغه وخت چې یو څوک بل کس له اجازې پرته په جنسي ډول لمس کړي

د مسلمان ښځو لپاره په کاري چاپېریال کې د جنسي ځوروني په ممکنه بڼو کې دا موارد شامل دي:

Nadia او Huda د قضیې مسلمانې کار کوونکې دي. Huda حجاب اغوندي او Nadia یې نه اغوندي. یو همکار هغوی سره پرتله کوي، Huda ته وایي چې خپل حجاب مه اغونده تر څو د Nadia په څېر "ښکلی" شي او وایي چې هېڅوک به له هغې سره واده ونه کړي. همداراز، Nadia ته یې د ښکلا د ملکې خطاب کړی دی. Huda او Nadia ته لا هم هماغه د دوی نورو غیر مسلمانو همکارانو په څېر فرصتونه ورکول کېږي، هماغه پروژې چې د پرمختګ زمینه برابروي او د ښه فعالیت ارزونې ترلاسه کوي Huda او Nadia دواړه په کار ځای کې د جنسي ځورونې سره مخ دي.

ستاسو مدیر یو ورځ د مانښام په وخت تاسو ته پیغام استوي چې تاسو ډېره ښکلې یاست او هغه غواړي تاسو په ښه ډول وپېژني. تاسو ځواب ورکوئ چې مننه او دا چې واده مو کړی دی. ستاسو مدیر ښښنه غواړي. راتلونکی مانښام، ستاسو مدیر بیا تاسو ته د مانښام په وخت پیغام استوي او پوښتنه کوي چې څه کوئ. تاسو ورته وایئ چې ستړي یاست او همدا اوس مو د شپې ډوډۍ چمتو کول پایته ورسول. هغه ځواب درکوي چې که چېرې تاسو له هغه سره واده کړی وای، نو ستاسو د خاوند په پرتله به یې تاسو ته ډېر قدر درکاوه. تاسو په ځواب کې مننه تري کوئ. دا حالت د دوو اونیو لپاره دوام مومي. تاسو ځان ناارامه احساسوئ خو هغه ته نه وایئ چې دا کار پرېږدي، ځکه د خپل کار د له لاسه ورکولو ویره لرئ. حتی که چېرې تاسو نه هم وایئ او چلند په کار ځای کې نه وي، دا هم په کار ځای جنسي ځورونه ګڼل کېږي.

د یوه مسلمان رستورانت مدیر څو ځلې هغې مسلمانې خدمت ترسره کوونکې باندې نیوکه کوي چې حجاب نه اغوندي، د هغې د لباس په اړه خبرې کوي، وایي چې باید خپلې ویښتان پټ کړي او وایي چې هغه بې بندوباره ښکاري. هغه دغه څرګندونې له همکارانو سره د کار ساعتونو وروسته د کارت لوبې پر مهال کوي او همدارنګه لیکلي او غږیز پیغامونه هم همکارانو ته استوي. که څه هم میلمه پاله هلته موجوده نه وه او دا چلند په کار ځای کې نه و ترسره شوی، دا بیا هم د کار ځای جنسي ځورونه ګڼل کېږي.

د هغو چلندونو بېلګې چې په کانادا کې محکمو او قضايي مراجعو په کار ځای کې جنسي ځورونې بللې دي:



- يو ناخوښ کارکوونکي د خپلې ښځينه مديرې په اړه اوازې خپرې کړې دي او ويې ويل چې هغه د شرکت له رئيس سره پټه اړيکه لري او يوازې د دې له لارې بريالۍ شوې ده چې د مقام تر لاسه کولو لپاره له خلکو سره جنسي اړيکې نيسي.
- يو څارن پوليس د يوې ځوانې ښځينه پوليسې افسرې کار کوونکې په کار باندې پرله‌پسې نيوکه کوله او د نورو همکارانو په مخ کې يې هغې ته د "افسرې پر ځای بيا ميرمن" ويل.
- په يوه حقوقي شرکت کې د مقالې ليکلو دندو لپاره د مرکې پر مهال، يو لوړ پوړی شريک له هغه ځايه تېر شو، يوې ښځينه نوماندې ته يې اشاره وکړه او د ګمارنې د ټيم يوې ښځينه غړې ته يې وويل، "همدا وګمارئ." د هغې ظاهري څېره ښه ښکاري. دا چلند د نوماندې او د ګمارنې د ټيم د غړې دواړو پر وړاندې جنسي ځورونه بلل کېږي.

- يوې مجردې مور د خپل مستقيم مدير له لوري نا غوښتل شوې جنسي څرګندونې او چلند زغملو او د کار د له لاسه ورکولو د وېرې له امله يې ورسره جنسي اړيکه ومنله. دې ميرمنې هغه ته نه ونه ويل او د دې چلند په اړه يې راپور ورنه کړ. وروسته له دې چې ګمارونکي هغه بل ځای ته واستوله، هغې خپل مدير ته وويل چې دا کارونه بند کړي، خو هغه بيا هم پر هغې جنسي تېرى وکړ. کله چې هغې د جنسي تيري په اړه راپور ورکړ، دواړه له دندې وشړل شول. جنسي تيرى او له وړاندې له رضايت پرته اړيکه له بيکارۍ څخه د ويرې له امله وه. د ګمارونکي لخوا له دندې څخه د هغې شړل غير قانوني و.
- يوه ځوانه ښځه د خپل ګمارونکي له لوري، چې له هغې څخه يې ډېر عمر درلود او د هغې د کورنۍ ملګرى هم و، له نا غوښتل شوي نږدې کېدو او فزيکي اړيکې يا لمس سره مخ شوه. دا لړۍ هغه وخت پيل شوه کله چې ګمارونکي هغې ته د شپې ناوخته په کښتۍ کې د سفر بلنه ورکړه، وروسته بله پېښه رامنځته شوه چې هغه يې يو ګونډه ځای ته يوړه او د هغې د مينې او شخصي اړيکو په اړه يې پوښتنې وکړې او بيا د کار پورې تړلي سفر پر مهال نا غوښتل شوى فزيکي ډول لمس ترسره کړ او د رومانټيک احساساتو څرګندونه يې وکړه. محکمې يادونه وکړه چې د کورنۍ د ملګرې او ګمارونکي په توګه د ګمارونکي دوه اړخيز رول، پر دې ځوانه ښځه په لويه کچه منفي اغېز درلود.



- د ودانۍ يوه ښځينه سرپرسته د دوو نارينه اجاره کوونکو له لوري جنسي ځورونې او ګواښونو سره مخ شوه. کله چې هغې د دې موضوع په اړه راپور ورکړ، ګمارونکي يې دا موضوع د جنايي ستونزې په توګه رد کړه او هغې ته يې وويل چې پوليسو ته مراجعه وکړي. هغه د ذهني فشار له امله طبي رخصتي ته ولاړه او وروسته له دندې وشړل شوه. محکمې حکم وکړ چې دا جنسي ځورونه ده او ګمارونکي د هغې د کار ځای د خوندیتوب په ساتلو کې ناغېږي کړې ده. محکمې وويل چې ګمارونکي بايد يوه پاليسي درلودای، روزنه يې ورکړې واى، امنيتي کمرې يې نصب کړې واى، د شکايت د ثبتولو طريقه يې جوړه کړې واى، پېښه يې څېړلې وه او د هغې د خوندیتوب لپاره ګامونه يې پورته کړي وو.

دا د کاناډا د مسلمانو ښځو شورا (CCMW)** له لوري په کار ځای کې د جنسي ځوروني د مداخلې (WISH) پروژې په چوکاټ کې چمتو شوی دی.

دا سرچینه عمومي حقوقي معلومات وړاندې کوي او حقوقي سلا مشوره نه ده.
د کاناډا د عدلیې وزارت لخوا یې مالي ملاتړ ترسره کېږي.

© *CCMW 2026* / اپډیټ شوی په: د *2026* مارچ میاشت

Canadian Council of Muslim Women (CCMW)
Le conseil canadien des femmes musulmanes (CCFM)

Department of Justice Canada
Ministère de la Justice Canada